# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۱۷مه | ۶۳۰مه گڼه


## ځېره

۴ مخ

### باب ډیلن



باب ډیلن چې پوره نوم یې رابرت آلن زیمرمن دی، امریکایي لیکوال، کمپوزر، شاعر، سندرغاړی او د نوبل جایزې گټونکی دی.

# کړکېچن وضعیت او یو بل گواښ؛

## اتمر: دا وېره شته چې نړیواله ټولنه له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ور نه کړي



۳

پـه افغان سوله کې د ملگرو ملتونو د منځگړیتوب اړتیا

۲ مخ

د وینې تېز او د سولې پیکه رنگ

۲ مخ

یانگ څه سیند؛ د چیني اقتصادي کمربند د ملا تیر

۳ مخ

### په کندوز کې یوه افغان سوداگر د نږدې ٦ میلیونه ډالرو په لگښت د وریجو د پروسس فابریکه جوړه کړې




په کندوز کې یوه افغان سوداگر په خپل شخصي لگښت د وریجو د پروسس یوه فابریکه جوړه کړې ده.
د وریجو د پروسس د دې فابریکې کارکوونکي وایي چې دا فابریکه په ۲۴ ساعتونو کې د ۱۴۰ ټنو وریجو د پروسس وړتیا لري او ۸۵ فني کارکوونکي پکې کار کوي.
دا په کندوز کې چې د شولو حاصلات یې د افغانستان په کچه مشهور دي، په دې بڼه لومړنۍ فابریکه ده. د دې فابریکې څښتن خان محمد فروتن وایي، چې پر دې فابریکه یې څه باندې ۵ میلیونه ۷۰۰ زره ډالر لگښت کړی دی.
د هغه په وینا، د شمال ختیځ زون په درې ولایتونو کندوز، تخار او بغلان کې ۳۸۴۰ قراردادي کروندگر لري چې دې فابریکې ته شولې ورکوي.
هغه زیاته کړې: «زموږ هدف دا دی چې دهقانانو شولې په نړیوال شکل پروسس او بازار ته یې وړاندې کړو او ترڅنگ وزگاره خلکو ته د کار زمینه برابره کړو.»

### والسټریټ ژورنال: له افغانستانه د ټولو امریکایي ځواکونو وتل به د ایران او طالبانو په گټه تمام شي

وال سټریټ ژورنال ورځپاڼه وایي، له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل به د ایران او طالبانو په گټه تمام شي.
ورځپاڼه کاږي، له افغانستان څخه په بېړه د ځواکونو وتل د امریکا گټې له ستر گواښ سره مخ کولی شي. په راپور کې همداراز راغلي چې ولسمشر ټرمپ په سپینه ماڼۍ کې د پاتې کېدو لپاره یوازې دوې میاشتې وخت لري او هغه پرېکړه کړې چې ډېر ژر به خپل ځواکونه له افغانستان څخه وباسي.
د ورځپاڼې په باور دا پرېکړه به نه یوازې د امریکا گټې له ستر گواښ سره مخ کړي، بلکې ډېره گټه به یې ایران او طالبانو ته ورسېږي. د یادونې ده چې د امریکا نوي سرپرست وزیر کریسټوفر مېلر ویلي چې دوی باید تر هر څه ژر خپلې اوږدې جگړې پای ته ورسوي او له ټولو هېوادونو، په ځانگړې توگه افغانستان څخه خپل ځواکونه خپلو کورونو ته ستانه کړي.
دا په داسې حال کې ده چې وړمه ورځ بیا ایراني چارواکو ویل چې له افغانستان څخه په نامسووله توگه د امریکایي ځواکونو وتل به په سیمه کې ننگونې ډېر کړي او په خبره یې، د امریکا ځواکونو دا ډول وتل د افغانستان له گټو سره په ښکاره ډول خیانت دی. ایران دغه راز ویلي چې امریکایي ځواکونه دې له افغانستان له سیمې څخه په مسوولانه ډول ووځي.

### عامې روغتیا وزارت: په هېواد کې د کرونا له کبله د مړه شوو کسانو شمېر ۱۶۳۲ ته ورسېد



۲ مخ

### مسئولیت مبارزه با فساد اداری در کابل به امرالله صالح سپرده شد



رئیس جمهور غنی، بخاطر تطبیق موثر میثاق امنیتی، مهار فساد اداری در کابل را نیز به امرالله صالح واگذار کرد.
امرالله صالح معاون اول رئیس جمهور که از ۲٦ میزان به این سو، مدیریت امنیت کابل را بر عهده گرفته است، پس از عهده دار شدن این مسئولیت، همه روزه تصمیم و دستاوردها در بخش متذکره را در صفحهٔ فیسبوکش همگانی می کند.
امرالله صالح معاون اول ریاست جمهوری، دیروز در صفحه فیسبوکش نوشته است که رئیس جمهور افغانستان، هدایت دادند که تیم شش و نیم، بخاطر تطبیق موثر میثاق امنیتی، مهار فساد اداری در کابل را نیز شامل اجندا و کار خود بسازند.
وی افزوده است: «بخاطر کار موثر در این بخش، عنقریب برنامه منظم جمع آوری اطلاعات و اقدام به اساس اطلاعات را در هماهنگی و دخیل سازی نهادهای ذیدخل – مرتبط و ذیصلاح، روی دست خواهیم گرفت.»
موصوف گفته است که در بخش مهار فساد اداری نیز مانند مباحث امنیتی، ازین به بعد شهروندان را در جریان خواهد گذاشت.
این در حالیست که حدود پنج روز پیش، رئیس جمهور غنی گفت که عنقریب کمیسیون مبارزه علیه فساد اداری ایجاد میگردد. قابل ذکر است که قبل از این نیز کمیسیون عالی مبارزه با فساد اداری و اداره بازرس برای مبارزه با فساد اداری، ایجاد گردیده اند.




## سرلیکنه

### په افغان سوله کې د ملګرو ملتونو د منځګړیتوب اړتیا

د افغان سولې پروسه په ټپه ولاړه ده. که څه هم حکومتي پلاوی لا په دوحه کې دی، خو له طالبانو سره یې غونډې نشته او د سولې خبرې ولاړې دي. د دواړو لورو اساسي اختلاف پر دې دی چې د امریکا او طالبانو تر منځ هوکړه د بین الافغاني خبرو لپاره اساس شي او که نه. طالبان همدا اساس ګڼي، خو حکومت یې ورسره نه مني. د دواړو لورو لخوا متفاوت وړاندیزونه هم شوي، خو اختلاف پر ځای دی او د بین الافغاني خبرو لپاره کړنلاره او اصول همغسې اختلافي دي. د ستونزې د حل لپاره د نورو هېوادونو شوې هڅې هم بې پایلې وې او کوم اساسي پرمختګ ونه شو.

د افغانستان د سولې پروسه په داسې حال کې په ټپه درېدلې چې له یوه اړخه هره ورځ جګړه لسګونو او آن سلګونو افغانانو ته مرګ ژوبله اړوي او له بله اړخه د امریکایي ځواکونو د چټک وتلو بحث کېږي چې ورسره به افغانستان یوې خونړۍ کورنۍ جګړې ته تېل وهل شي. داسې ښکاري چې ټرمپ د ځواکونو په وتلو کې جدي دی او ښکاري چې ژر به لویه برخه امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. له دې سره به افغان حکومت لا زیات لړزانده شي، سختې او خونړۍ جګړې به وشي، طالبان به د لا زیاتو سیمو د لاندې کولو هڅه وکړي او حالت به ډېر خراب شي. له همدې امله اړتیا ده چې د امریکایي ځواکونو له وتلو سره هممهاله د سولې په پروسه کې چټک او اساسي پرمختګ وشي.

اوس خبرې له یو بندون سره مخ دي او د سولې په لاره کې یو داسې خنډ راغلی چې دواړه لوري یې په لرې کولو کې پاتې راغلي دي. له بله اړخه پر دواړو اړخونو نه د کوم بهرني لوري لخوا لوی فشار شته او نه هم د سولې په پروسه کې یو سم منځګړی شته چې د ستونزې په حل کې مرسته وکړي. له همدې کبله د یو ښه او ناپېیلي منځګړي اړتیا ده. تر اوسه پورې د سیمې او نړۍ ډېری مطرح هېوادونه یا خو د حکومت ملاتړ کوي او یا هم د طالبانو، نو ځکه د دوی منځګړیتوب ستونزه نه شي حل کولی. آن ځینې سیمهییز هېوادونه خو نه غواړي چې د افغانستان ستونزه د خبرو له لارې حل شي. نو پر دې اساس اړتیا لیدل کېږي چې د افغانستان د سولې په پروسه کې ملګري ملتونه د منځګړي په توګه مداخله وکړي.

د ملګرو ملتونو منځګړیتوب چې له یوه اړخه به تر ډېره ناپېیلی وي، له بله اړخه به اغېزناک هم وي. د دې تر څنګ، دا غوره ده چې ملګري ملتونه د منځګړیتوب تر څنګ د اسانچارۍ او آن د سولې د پروسې تخنیکي او مالي برخې په لاس کې واخلي. ملګري ملتونه د ښه منځګړیتوب تر څنګ په دواړو لورو فشارونه هم راوستلی شي او له خپلو هغو دریځونو یې تېرولی شي، چې د سولې په پروسه کې د خنډ او ځنډ سبب کېږي.

که ملګري ملتونه مداخله او منځګړیتوب ونه کړي او د سولې پروسه پیاوړې نه شي، نه یوازې دا چې د سولې پروسه به بریالۍ نه شي، بلکې په افغانستان کې به د سیمې هېوادونو سیالۍ او مداخلې زیاتې شي او موږ به یوې بلې خونړۍ جګړې ته ننوځو.

# د وینې تېز او د سولې پیکه رنګ

لیکنه: عبدالوحید وحید

د امریکا او طالبانو تر منځ د تېرې فبرورۍ په میاشت کې د دوه اړخیزې هوکړه لیک له لاسلیک کولو وروسته، جګړې پر هیواد د وحشت توره لمن وغوړوله. د اړونده سرچینو له مخې، پنځوس سلنه د جګړو او درې ځلوېښت سلنه د ملکي تلفاتو کچه لوړه شوې ده. د سولې لپاره ټولې ژمنې پر یخ باندې لیکل ثابت شول او د بین الافغاني مذاکراتو له لمر راختو سره سم ویلې شوې.

له بده مرغه دلته له پردیو سره دوستي او یارانه ویاړ ګڼل کېږي، خو د افغان په لاس د بل افغان ورور وژنه د مجبوریتونو په کټه‌ګورۍ کې راوړي. دلته سوله یا مصالحه په خپل مفهوم چې د یو بل منلو او د یو او بل پر وړاندې انعطاف او تنزل نه، بلکې د مخالف لوري تسلیمي او په خپله ارګ ته ننوتل او یا په ارګ کې پاتې کېدل سوله ګڼل کېږي. دلته د "اشدّأُعلی الکفار رحماً بینهم" قراني ایت د عمل په ډګر کې په معکوسه توګه پیاده کېږي.

لنډه دا چې دلته د هر قاتل لپاره د غازي او خونکار او د هر وژل شوي لپاره د شهید او مردار القابو د کارولو لپاره دلۍ دلۍ توجیهات پراته دي، د انسان د ژوند ژغورلو، د دې سوځېدلې خاورې د رغولو، د دغه کنډواله هیواد ښیرازولو او د دغه ګډ کور د جوړولو لپاره بین الافغاني مذاکرات د طرزالعمل جوړولو په مورد کې د اختلاف له امله له تیرو دوو میاشتو راهیسې په ټپه ولاړ دي.

دلته د سولې رنګ پیکه دی، د زغم، تحمل، متقابل احترام او انعطاف کلتور له منځه تللی دی. دلته د ژغورلو لپاره هیڅ نشته، خو دلته آن د مورکۍ په خېټه کې د نا مولود ماشوم وژلو ته هم توجیهات او بانې جوړېږي.

د ارګ حاکمانو کلونه کلونه د بین الافغاني مذاکراتو د پیل په نوم کچ کول، د پردیو هیوادونو تر عسکري قاغوشونو پورې یې ورسول او طالبانو شل کاله د بهرنیو ځواکونو د وتو په صورت کې د افغانانو د خپلمنځي سولې د شونتیا او اسانتیا ژمنې کولې، خو اوس مو ولیدل چې د دواړو خواو غوښتنې پوره شوې، مګر د ولسونو د سولې ارمان د پوره کېدو هیڅ څرک نه لګیږي.

زمونږ په جګړه کې د ښکېلو غاړو له وعدو او تشو خبرو څخه ملت دومره ناهیلی شوی دی، چې اوس د سولې په تړاو د ټرمپ او بایډن په بریالي کېدو او د سولې په اړه د هغوی پر څرګندونو او ارادو باندې حساب کوي. حال دا چې زمونږ په هکله ټرمپ، بایډن، اوباما او بوش هیڅ اختلاف نه لري. اوس مونږ د امریکا په لومړیتوبونو کې نه؛ بلکې په زیاتو مواردو کې طفیلي او فرعي مسایلو کې راځو. زه منم چې زمونږ په جګړو کې امریکا ژور نقش لري، خو امریکا ته زمونږ سوله او ګټې نه، بلکې خپله سوله او خپلې ګټې اهمیت لري. که دلته جګړه د امریکا په ګټه وه، بې له شکه چې هغه به د جګړې دواړو خواوو ته اوبه خړوي؛ خو که سوله ورته لومړیتوب ولري، نو د سولې لابي کوي. له طالبانو سره د سولې په تړون کې مو ولیدل چې د خپلو عسکرو ژوند او د خپلو جنګي وسایلو خوندیتوب او د افغانستان له خاورې څخه د ګټې اخیستو په نتیجه کې پر امریکا او ملګرو باندې د هر ډول او د هرې ترهګرې ډلې لخوا د برید د مخنیوي لپاره د طالبانو ژمنتیا یې لومړیتوب وه. په هوکړه لیک کې یې په زغرده ورڅخه دفاع کړې ده. د بین الافغاني مذاکراتو د پیلولو لپاره د طالبانو د بندیانو د خلاصون او د تاوتریخوالي کمول یې د توقعاتو (Eexpectation) په کټه‌ګورۍ کې راوستلي دي.

ښاغلی ولسمشره! د وخت حساسیت درک کړه!!! مونږ خپل ارزښتونه سپک کړل. مونږ په ټوله نړۍ کې د پراخ فساد، پاشلي حکومتي چوکاټ، پر شخصي خپلوۍ او یارۍ ولاړې ډیپلوماسۍ له امله بهرني دوستان له لاسه ورکړي دي. د دیوال نوشته ولوله! راځه هغه غلطي او سهوې مه تکراروه چې پخوانیو مشرانو کړې دي. په ګاونډ سیمه او نړیواله سطحه زمونږ د جګړې او سولې بهرني اړخونه زمونږ د اوسني ترینګلي کورني سیاسي او امنیتي وضعیت او په قطر کې د بین الافغاني مذاکراتو د ممکنه ناکامۍ له امله په خطرناکو رقابتونو لاس پورې کولای شي. هرڅه ګډوډېدای شي. افغانستان له ناورین سره مخ دی. دا هغه څه دي چې تاسو به یې د جوړولو وړتیا ونه لرئ. تاسو د نجیب استعفا سهوه ګڼئ، خو زه د هغه مهال د سیاسي بدلونونو د عیني شاهد په توګه د نجیب استعفا د شرایطو اړتیا ګڼم، مګر پر نوموړي باندې ډېره ناوخته شوې وه او له بلې خوا د مجاهدینو مشران د سیاسي حالاتو د ترینګلتیا په ارزونه او د پردیو لاسوهنو په مخنیوي کې پاتې راغلل.

د وخت د حساسیت له امله ملي سیاستوال هم مسوولیت لري چې له رقابتونو او د امتیازاتو تر لاسه کولو څخه تېر شي.

حکومت په مسلسله او متواتره توګه د کعبې په نیت ترکستان ته روان دی او حتی د سهوو د ارزونو لپاره بیا کتنې ته هم تیار نه دی. په اوسني وضعیت کې د غني غلطي نه یوازې زمونږ هیواد د نوییمې لسیزې له کورنۍ جګړې او لا تر دې هم خطرناک صورت حال سره مخ کولای شي؛ بلکې په خپله ولسمشر غني هم د تباهۍ کندې ته غورځوي.

کله چې د شرایطو کره کتنه نه وي، نو لکه د ډاکټر نجیب غونډې د مصئونیت له ستر پوښښ سره سره هم بند راځي او د هوایي ډګر په څلورلاره کې ورباندې د ملګرو ملتونو الوتکې ته د پورته کېدو مخه هم نیول کېږي او د تیښتې لاره یې بندیږي.

د رباني، طالبانو او کرزي د حکومتونو پر مهال مې ارګ لیدلی و. دې هر یوه خپله ځانګړتیا درلوده. د رباني په حکومت کې ارګ د احمدشاه مسعود له انځورونو او پکول والا خلکو ډک و. طالبانو ارګ ته سپېڅلی اسلامي عنعنوي افغاني رنګ ورکړ و. وای که باجوړ نه خوري، نو غیبت خو یې مه کوه. د کرزي د حکومت پر مهال ارګ د خلکو کور او د ملي ارزښتونو سپېڅلتیا ننداره وړاندې کوله، خو اوسنی ارګ بالکل بدل بدل ښکاري او د USAID د دفتر ننداره وړاندې کوي. یو وخت د ترکمنستان پلازمېنې عشق اباد کې د خلکو کور ته ورغلی وم، هغه مهال د ترکمنستان ولسمشر سفرمراد نیازوف یو مغرور متکبر او لادینه شخص و، خو په ارګ کې داسې خلک ښه ډېر ښکارېدل چې د دغه هېواد د کلتور، ټولنیز ذهنیت، ملي ارزښتونو او دین پورې د تړاو استازیتوب یې کاوه. دغه هېواد او عنعنوي مذهبي ټولنه د اوسنیو بیځایه مانورونو او بدلونونو تاب او زغم نه لري. غني له باروتو سره لوبه کوې. زه د سمون او بدلون پلوی یم، خو معتقدات جلا ځانګړتیاوې لري او ملي کلتور خوندي ساتل هم د تمدن د ژوندي پاتې کېدو لپاره اړین دي. اوسنۍ اداره د دغو مقدساتو په ساتلو او د هیواد په مدیریتي وړتیا پوره کولو کې پاتې راغلې ده. موازي ادارې او کمېسیونونه جوړول یې زده دي، خو له فساد سره په مبارزه کې په بشپړه توګه ناکام دي. د فساد ټول انواع او اقسام له ارګ څخه پیلېږي او له ارګ څخه یې دفاع کیږي.

طالبانو باندې هم یو ځل بیا غږ کوو چې نه درسره عقده لرو او نه هم درته خوبونه وینو. وروڼه او د دغه هېواد د وګړو په توګه مو د ټولنیز بدن غړي یاست. له تاسو پرته نیمګړي یو او د ټولنې د رواني رنځونو معالجین مو یاست. د سولې په هکله اوسنۍ تګلاره مو له اور سره لوبه کول دي. په تېزۍ سره د بدلېدونکو حالاتو د خطر دقیقه، کره او هر اړخیزه محاسبه وکړئ. اوسنی نظام ښه او که بد دی، خو خدای مه کړه که یوه ضربه یې وخوړه، نو بیا به یې غني او تاسو د مدیریت وړتیا ونه لرئ. د دغه هېواد د بچیانو په توګه پر دغه خاوره باندې له مخالف لوري سره د ګډ محترمانه ژوند او ګډ کار کولو هنر زده کړئ. لکه د پخوا په شان د واک د انحصار تصور هم مه کوئ. د اسلامي نظام او ولسي رایو پر بنسټ د ولاړ زعامت په رامنځ ته کولو، مالي- اداري او اخلاقي فساد د له منځه وړلو په تړاو مو ټول ملت په کلکه ملګرتیا کوي. د سرومال په بیه درسره ولاړ دي، خو جګړه ورته د توجیه وړ نه ده. د سولې په هکله څرګند او ځانګړي وضاحتونه ورکړئ. خپلې غوښتنې په رڼه ډګر مطرح کړئ او لکه له امریکا سره مو چې لاسلیک کړ، همدغه شان یو د سولې تړون له خپلو افغانانو سره هم لاسلیک کړئ.

## عامې روغتیا وزارت: په هېواد کې د کرونا له کبله د مړه شوو کسانو شمېر ۱۶۳۲ ته ورسېد

عامې روغتیا وزارت تېره ورځ اعلان وکړ چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ۲۲۸ مثبتې پېښې ثبت شوې دي چې له دې سره په افغانستان کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۴۳۴۶۸ ته ورسېد.

یاد وزارت په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د هېواد په لابراتوارونو کې د کرونا ویروس ۱۲۵۱ شکمنې پېښې ازمایل شوې چې ۲۲۸ یې مثبتې دي.

سرچینه وایي چې د یادو پېښو په ثبتېدو سره په هېواد کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۴۳۴۶۸ ته لوړ شو.



د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، په تازه ثبت شوو پېښو کې ۹۴ کسان په کابل، ۵۱ په هرات، ۲۶ په بلخ، ۲۰ په تخار، نهه په کندهار، نهه په کندوز، څلور پروان، درې-درې په بغلان، بادغیس، لوګر او میدان وردګو، دوه فراه او یو هم په زابل ولایت کې پر کرونا ویروس اخته شوي دي.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې ٤٤ کسان له کرونا ناروغۍ ببرته روغ شوي چې له دې سره په هېواد کې له کرونا ویروسه د بېرته روغ شوو کسانو شمېر ۳۵ زره ۱۳۶ ته ورسېد.

د عامې روغتیا وزارت د خبرپاڼې له مخې، په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ویروس له امله ۱۵ کسان مړه شوي چې په دې سره له دې ناروغۍ د ټولو مړه شوو کسانو شمېر ۱۶۳۲ ته ورسېد. دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې د عامې روغتیا وزارت چارواکو ویلي وو، چې د کرونا پېښې په هېواد کې یوځل بیا د ډېرېدو په حال کې دي. دغه وزارت له خلکو غوښتنه کړې چې د کرونا ویروس د مخنیوي په موخه د دغه وزارت لارښوونې جدي عملي کړي.



# یانګ څه سیند؛
## د چیني اقتصادي کمربند د ملا تیر

لیکواله: غاټول
د چین میډیا ګروپ خبریاله

د چین د کمونېست ګوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي، د دولت رییس او د مرکزي پوځي کمیټې رییس شي جین پینګ د نومبر په څوارلسمه د چین د جیانګ سو ولایت په نان جینګ ښار کې د یانګ څه سیند پر غاړه د اقتصادي کمربند د پرمختګ په اړه د غونډې مشري وکړه او دې غونډې ته یې مهمه وینا وکړه. هغه پر دې ټینګار وکړ چې باید د چین د کمونېست ګوند د ۱۹م ملي ولسي کانګرس او د دې ګوند د ۱۹مې دورې مرکزي کمیټې د دویمې، دریمې، څلورمې او پنځمې غونډې تحمیمونه او روحیې تطبیق شي، د نوي پرمختګ د مفکورې په پلي کولو سره دې د یانګ څه سیند پر غاړه د اقتصادي کمربند ته پرمختګ ورکړل شي او د چاپیریال ساتنې او د اړوندو چارو د پرمختګ له لارې دې د سیمه ییز پرمختګ نمونه او د ورخلاصون نوې سمسوره سیمه دې اباده کړي او دغه راز د نوښتونو له لارې دې اقتصادي پرمختګ ته وده ور کړي، څو د یانګ څه سیند پر غاړه اقتصادي کمربند د چین د چاپیریال د شین پرمختګ عمده سیمه او د کورني او بهرني دوران او د باکیفیته اقتصادي پرمختګ د لارښوونې عمده ځواک وګرځي.

د چین د دولت رییس شي جین پینګ په خپله وینا کې پر دې ټینګار وکړ چې له پنځو کلونو راهیسې د چین د کمونېست ګوند د مرکزي کمیټې په مشرۍ د یانګ څه سیند پر غاړه د پرتو ولایتونو او ښارونو حکومتي ارګانونه د چاپیریال د ښه والي له لارې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ د پرمخبیولو لپاره ډېرې هڅې کړې، چې پیمانه او اغېز یې بې ساري دی. د دوی د هڅو او کوښښونو له کبله د یانګ څه سیند پر غاړه په اقتصادي کمربند کې د چاپیریال ساتنې په برخه کې ډېر مهم بدلونونه راغلي دي او په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې د اهمیت وړ لاسته راوړنې تر لاسه شوې دي. په دې اقتصادي کمربند کې چې اقتصادي پرمختګ یې په ثابت ډول روان دی، جوړښت یې غوره دی او د خلکو د ژوند سویه په څرګنده توګه لوړه شوې ده؛ اقتصادي پرمختګ پکې په ښه توګه ساتل شوی او د چاپیریال ساتنې په بهیر کې یې پرمختګ موندلی دی. په تېره بیا له روان کال راهیسې یادو ولایتونو او ښارونو له کووید- ۱۹ سره د مبارزې لپاره اغېزمن تدبیرونه نیولي او د دې مبارزې تر څنګ یې اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته وده ور کړې، چې له دې امله یې د سیلابونو او د بیروني چاپیریال منفي اغیزې په اغېزمنه توګه لرې شوې او د نړۍ په عمده اقتصادونو کې یې د چین اقتصاد د بیا اعاده کېدو او مثبت پرمختګ لپاره خپل مهم خدمتونه کړي دي.

شي جین پینګ دې ته اشاره وکړه چې د یاد کمربند پرمختګ د چین د کمونېست ګوند د مرکزي کمیټې ستره تګلاره ده او له دولتي پرمختګ سره تړاو لرونکې ستره ستراتیژي هم ده. د چین د کمونېست ګوند د ۱۹مې مرکزي کمیټې په پنځمه غونډه کې په دې اړه غوښتنې تکرار شوې دي. د یانګ څه سیند اقتصادي کمربند چې پکې یوولس ولایتونه او ښارونه شامل دي، نفوس او عمومي اقتصادي اندازه یې په ټول هېواد کې نیمه برخه نیسي، ایکولوژیکي مقام یې مهم او پرمختیایي وړتیا او امکانات یې ډېر دي. باید د پرمختګ نوې مفکوره عملي کړي، د پرمختګ نوی جوړښت دې اباد کړي او د باکیفیته پرمختګ په بهیر کې دې مهم رول ولوبوي. هغه پر دې ټینګار وکړ چې په دې کمربند کې بېلابېل حکومتي ارګانونه باید د ایکولوژیکي چاپیریال ساتنه پیاوړې کړي او په دې برخه کې دې د بنسټیزو مسئلو د حل وفصل له لارې د چاپیریال ساتنې کارونه تر سره کړي.

هغه پر دې ټینګار وکړ چې باید د کورني دوران د پرمخبیولو لپاره هڅې وشي. د بېلابېلو کچو حکومتي اداري باید د دولتي پرمختګ په جوړښت کې پر ځاني پرمختیایي مقام ښه پوه شي او د کورني دوران د پرمخبیولو په ګټه اغېزمنې لارې چارې دې ولټوي. د دې تر څنګ، نوموړي دې ته په اشارې سره وویل، دغه کمربند باید لا پرانیستې او باکیفیته پرمختګ لرونکې سیمه وګرځي او په عین وخت کې دې د پرانیستې اقتصاد نوی نظام جوړ کړي او د ورخلاصون او امنیت تر منځ اړیکو ته دې په جدي توګه وګوري. پر دې سربېره باید د دې کمربند د پرمختګ او د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ د پیوستون لپاره دې هڅې وشي، څو پانګونه او سوداګري زیاته شي او کلتوري تبادلې پیاوړې شي.

هغه په خپلو خبرو کې پر دې ټینګار کړی چې د بېلابېلو کچو ګوندي کمیټې او حکومتي مشران په تېره بیا د ګوندي کمیټو مشران باید د دې کمربند د پرمختګ تګلاره پلې کړي، څو اړوند کارونه ښې پایلې ولري.

# کړکېچن وضعیت او یو بل ګواښ؛
## اتمر: دا وېره شته چې نړیواله ټولنه له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ور نه کړي



د هېواد د بهرنیو چارو وزارت وایي، د دې احتمال شته چې نړیواله ټولنه له افغانستان سره خپلې مرستې کمې کړي. حنیف اتمر چې پرون یې په ولسي جرګې کې د باور رایې اخیستو لپاره خپلې برنامې تشریح کولې، وویل، چې افغانستان په حساسو شرایطو کې دی او د دې اړتیا ده چې مذاکرات یوې پایلې ته ورسېږي. نوموړی دغه راز وایي، که وضعیت همداسې دوام کوي او طالبان پر خپلو ژمنو عمل نه کوي، نو ښایي د افغان سولې په تړاو سیمه ییزه او نړیواله اجماع هم زیانمنه شي.

پرون په ولسي جرګه د افغانستان د کابینې دریبو غړو د خپلو راتلونکو پروګرامونو او پلانونو په اړه خبرې وکړې. د بهرنیو چارو لپاره نوماند وزیر په خپلو څرګندونو کې د افغانستان پر بهرني سیاست، سولې، نړیوالو مرستو او نړیوالې اجماع خبرې وکړې. نوموړي وویل، له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې څلور کلنې مرستې په راتلونکو دوو میاشتو کې پای ته رسېږي چې له همدې امله د جینوا کنفرانس لپاره تیارۍ روان دی. هغه وایي، د دې احتمال شته چې له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې مرستې کمې شي. حنیف اتمر وایي، ښایي نړیواله ټولنه نور په دې بریالۍ نه شي چې له افغانستان سره خپلو مالي مرستو او همکاریو ته ادامه ورکړي. د ده په خبره: ((د دې خطر شته چې نړیواله ټولنه نور له افغانستان سره د مرستو په برخه کې پاتې راشي، ښایي خپلو همکاریو ته ادامه ور نه کړي، خو د جینوا په کنفرانس کې موږ د دوی د مرستو د جلب لپاره هڅه کوو)).

حنیف اتمر وایي، نړیوالې ټولنې افغانستان ته د مرستو د دوام لپاره یو شرط ټاکلی او د کابینې په غونډه کې پر دې شرط خبرې روانې دي. نوموړي د دغه شرط په اړه نور وضاحت نه دی ورکړی، خو تر دې وړاندې ځینو مرستندویه هېوادونو ویلي وو چې له افغانستان سره د دوی مرستې له دې وروسته د سولې هوکړې پر عملي کېدو او په افغانستان کې پر روان وضعیت پورې تړلې دي. دوی ویلي وو چې که په افغانستان کې سوله راځي او جګړې کمېږي، نو دوی به د خپلو مرستو پر جریان بیا کتنه کوي.

حنیف اتمر دغه راز د سولې په اړه هم خبرې او څرګندونې لرلې. نوموړي وویل چې د سولې له راتګ سره سره، دې احتمال شته چې په افغانستان کې د ترهګرو ډلو فعالیتونو دوام وکړي. د ده په خبره، په افغانستان کې اوس د جنګېدونکو وسله والو له هرو پنځو یو یې بهرنی دی چې افغان حکومت له بهرنیو جنګیالیو سره سوله نه کوي، بلکې د ترهګر په توګه به یې پر وړاندې مبارزه کوي. اتمر وایي، دغه ډلې ښایي ترهګریزو فعالیتونو ته د سولې تر راتګ وروسته هم ادامه ورکړي.

د بهرنیو چارو وزارت لپاره نوماند وزیر دغه راز زیاته کړې چې د افغانستان د سولې پروسه له نړیوال ملاتړ او د نړیوالې ټولنې له همکارۍ پرته بریالۍ کېدای نه شي. هغه وایي، که وضعیت همداسې دوام کوي او جګړې شدیدې وي، نو د دې احتمال شته چې د افغان سولې په اړه رامنځ ته شوې اجماع زیانمنه شي. نوموړی وایي چې دوی له ټولو خواوو هڅه کوي، څو د افغان سولې په اړه اوسنۍ اجماع لا پیاوړې شي او د سیمې هېوادونه په صادقانه توګه په دې بهیر کې مرسته وکړي.

حنیف اتمر له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې له افغانستان سره همکاري وکړي. د ده په خبره، ملګري ملتونه او د ملګرو ملتونو امنیت شورا باید د سولې لپاره او تر سولې وروسته له افغانستان سره په اقتصادي، سیاسي او مالي برخه کې همکاري وکړي، څو افغان حکومت وکړی شي د دې پروسې د بریا لپاره مهمې برنامې جوړې کړي او افغانستان ته دایمي ثبات راولي.

حنیف اتمر پر طالبانو نیوکه کړې چې تاوتریخوالی یې نه دی کم کړی، جګړې یې نه دي کمې کړې او پر ژمنو عمل نه کوي چې همدې مسئلې جګړه اوږده کړې ده. د طالبانو د قطر دفتر ویاند محمد نعیم بیا په تازه څرګندونو کې ویلي چې دوی سولې ته ژمن دي او هیله لري چې روان مذاکرات ژر تر ژره پایلې ته ورسېږي.

# د امریکا د ټاکنیز کړکېچ دوام؛
## ټرمپ: د ټاکنې پایلې نه منم، لا هم اوږده لاره پاتې ده

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ، منتخب نوي منتخب ولسمشر جوبایډن ته په اشارې ویلي چې هغه یوازې د جعلي رسنیو له نظره بریالی دی او دا ورته د منلو نه ده.

ټرمپ د لومړي ځل لپاره په ټاکنو کې په یو ډول د جوبایډن له بریالي کېدو یادونه کړې او پرته له دې چې د بایډن نوم یاد کړي، په خپل ټویټر یې لیکلي چې هغه په درغلیو بریالی شوی دی.

ټرمپ زیاته کړې چې هېڅ شی نه مني؛ ځکه د ده په خبره، دا ټاکنې لوټ شوې دي. ټرمپ ویلي: «هغه (جوبایډن) یوازې د جعلي رسنیو په نظر ګټلې. زه هېڅ نهمنم! موږ لاهم اوږده لاره لرو، دا ټاکنې غلا شوې!»

ټرمپ په یوه بل ټویټ کې زیاته کړې چې څارونکو ته یې اجازه نه ده ورکړل شوې چې د ټاکنو پر بهیره څار ولري. نوموړي که څه هم په ټاکنو کې د درغلیو خبره راپورته کړې او ویلي یې دي چې له حقوقي لارو به دا مسئله تعقیب کړي، خو کوم شواهد یې په دې تړاو نه دي وړاندې کړي.

په ورته وخت کې د امریکا د ملي امنیت ادارې هم د نومبر په ۱۲مه ویلي وو چې د رایو د حذفېدو، بدلون یا درغلیو هېڅ نښې نه دي موجودې.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشریزې ټاکنې د نومبر په دریمه وشوې. ټولو معتبره امریکایي رسنیو جوبایډن د امریکا د ولسمشرۍ ټاکنو ګټونکی اعلان کړی، خو ټرمپ یې نه مني او وایي چې په دغو ټاکنو کې پراخې درغلۍ شوې دي.

بایډن د اونۍ تر پایه د رایو د شمېرنې په دوام کې ۳۰۶ الکټرول کالجونه ګټلي او پر وړاندې یې برحاله ولسمشر ډونالد ټرمپ ۲۳۲ کالجونه لري.

د ټرمپ تر دغو ټویټونو وروسته د منتخب ولسمشر جوبایډن یوه نږدې همکار او د سپینې ماڼۍ د چارو ادارې راتلونکې مشر ران کلېن ان بي سي ټلوېزیون ته ویلي چې بایډن هم د الکټرول او هم د خلکو د رایو په اساس ګټلې ده.

کلېن زیاته کړې: «هغه وګټله؛ ځکه ډېرې رایې یې خپلې کړې. د خلکو زیاته رایه یې هم وړې ده او په هماغه اندازه الکټرول رایې یې وګټلې چې ولسمشر ټرمپ څلور کاله مخکې ځان پرې یو اړخیز [ګټونکی] وباله. که ولسمشر دې ته چمتو دی چې واقعیت ومني، دا مثبته خبره ده. د ډونالد ټرمپ د ټویټ محتویات د جوبایډن ولسمشر یا ولسمشر نهکېدل نه ټاکي. د امریکا خلکو دا کار کړی دی.»


په ورته وخت کې د نړۍ اکثرو مشرانو او ان د امریکا مخکېنیو ولسمشرانو چې پکې جمهوري غوښتونکی جورج ډبلیو بوش هم شامل دی، بایډن ته مبارکي ورکړې ده.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دويمه برخه
### د نړۍ دويم تر ټولو زوړ مسلک




سېنها: يعنې د صميميت فضا نه وي؟
دولت: هو کله کله. خو دا تر افرادو پورې ده، په را کې ډېر ښه خلک دي. زه چې کله په را کې وم، د ګډ کار په اڼه مې هېڅ راز خنډ نه و ځکه چې ما به په شيامال غړ کړ او ويل به مې راځه کېنه او جوړ يې کړه. خو له بده مرغه وضعيت ډېر دوام و نه کړ. له ما وروسته بېرته پخوانی وضعيت شو، نانديرۍ، بحثونه او جنجالونه پيل شول. کله کله داسې وخت راځي چې هر څه سم وي، خو د تل لپاره نه.
سېنها: ايا په استخباراتي ادارو کې بيروکراتيکه لټي يا بې کفايتي شته؟
دولت: هو! دوه ډوله. يو هغه ډول کمکاري ده چې په خپله د ادارې د ننه را منځته کېږي. استخباراتي اداري په يوه مانا بيروکراټيکې دي، خو هڅه بايد وشي چې له بيروکراسۍ څخه وساتل شي. هغه څه چې موږ يې په سازمان کې کوو، هغه منل شوي اصول يا په کتاب کې ليکل شوې خبرې نه دي. ځينې کارونه دي چې اصولو او قواعدو ته نه ګوري. له همدې کبله که په استخباراتي ادارو کې بيروکراسي مراعات شي، نو لټي او بې کفايتي رامنځته کېږي. بله ستونزه دا ده چې د يوه سازمان په توګه اړ يې چې لا هم له بيروکراسي سره ګوزاره وکړې، چې دا بيا حکومت تر حکومته توپير لري. لکه د مودي حکومت چې زه فکر نه کوم که دا ډول ستونزې وي، ځکه چې هلته يوازې مودي او ډوال دي. هلته نوره بيروکراسي نه شته. خو نور لومړي وزيران يې په پام کې نه نيسي. په ورته ډول د واجپای په حکومت کې هغه او د هغه د ملي امنيت سلاکار برجېش ميشرا و. نور بيا داسې نه وو. د بهرنيو چارو او دفاع وزيرانو زموږ په چارو کې مداخله نه کوله. کله چې زه RAW ته راغلم او د کابينې له منشي سره مې وليدل، هغه وويل: زه دلته يم چې له تا سره په اداري برخه کې مرسته وکړم. ته چې په مسلکي او اوپراتيفي برخه کې څه کوې، زه نه غواړم چې مداخله پکې وکړم. مشر ته وواېه. هغه تر ډېره داسې بربښېده چې له موږ نه ډارېږي. له بيروکراسۍ يا ملکي اداري څخه دا ډول ځواب ترلاسه کول مناسب دي. خو تل داسې نه وي. د کورنيو چارو وزارت د دفتر رئيس او د کابينې منشي کولای شي چې درته ستونزې جوړې کړي. دا بيا د مسئولو چارواکو ترمنځ په تعامل پورې اړه لري. دا همدارنګه په دې پورې اړه لري چې کله د ملي امنيت شورا سلاکار د لومړي وزير او سازمان تر منځ اړيکې پرې کړي. له بده مرغه د سازمان د مشر رول په همدې اړيکو متکي دی ځکه چې د ټولو هغو کسانو چې تا ته لاسرسی لري او تا ته راپور وړاندې کوي، هيله او سترګې ستا په لور وي. همدا لامل دی چې په برېټانيا کې همدغه ډول يو په زړه پورې دود حاکم دی چې له مخې يې د استخباراتو مشر هر وخت د حکومت مشر ته لاسرسی پيدا کولای شي.
سېنها: په پوځ کې هم بيروکراسي شته؟ کله چې تاسو د ISI مشر وی، ايا له بيروکراټيکې لټۍ يا بې کفايتۍ سره مخ شوي ياست او ايا خلک له ډيپ سټېټ يا تصميم نيوونکې اداري څخه ډارېدل؟
دورانی: بيروکراسي شته، په دې کې شک نه شته، يو په نظامي برخه او بله په دفاع وزارت کې. يادې اداري با صلاحيته دي چې پوځ يې په رول سترګې نه شي پټولی. حتی که پوځ د چارو واګې هم په لاس کې ولري، دفاع وزارت کولای شي چې خپل برلاسی وساتي. پوځي بيروکراتان هغه دي چې په بېلابېلو قرارګاوو کې شتون لري لکه د لوی درستيزوالۍ افسران او نور. د يادېو کسانو چلند د عادي بيروکراسۍ په پرتله ښه دی. داسې نه ده چې ستونزې جوړې کړي يا هم په عرايضو کې مخالف نظر څرګند کړي. دا ځکه چې معمول دود يا کلتور داسې نه دی چې د پوځ يو افسر دې دوسيه له خنډ و ځنډ سره مخ کړي. ملکي بيروکراسي يا اداره بيا جلا ده: ملکي بيروکراسي کولای شي دوسيه بنده کړي، چې په دې صورت کې به چارې لا ګرانې شي. خو په پوځي بيروکراسۍ کې بيا دا ډول شيان نه شته. د هند او پاکستان د بيروکراسيو ترمنځ توپير دا دی چې زموږ بيروکراسي د کمزورتيا لړ او د پياوړتيا ډېر ټکي لري. پياوړتيا يې دا ده چې که خوښه وي او که نه وي، ټول يې مني او دې ته يې غاړه اېښې چې خپل کار بايد ترسره کړي. کمزورتيا يې دا ده چې پوځ پر دواړو برلاسی دی. په سياسي چارو کې د توازن ساتلو په برخه کې د بيروکراسۍ صلاحيت محدود دی. خو په هند کې بيا دا چاره ښه ده: پياوړې، اغېزناکه، با ثباته، همغږې او کارنده. د دواړو ترمنځ همغږي ساتل شوې او سياستوالو ته اجازه نه ده ورکړل شوې چې خرابی وکړي. په امريکا کې هم ورته ستونزه شته. امريکايي اداري چا ته اجازه نه ورکوي چې له کرښې پښه واړوي. د لومړيو وزيرانو لکه مودي يا واجپای د ځواکمنتيا په اړه بايد ووايم چې هو سمه ده، خو توازن ساتلو ته اړتيا ده. بيروکراسي کولای شي چې يا خنډونه جوړ کړي او يا اسانتياوې. په امريکا کې د ادارو چلند کولای شو چې د ښاغلي اوباما د حکومت په حالاتو کې يې ښه انځور کړو.

دوام لري...

# باب ډيلن

شفيق اميرزی



باب ډيلن چې پوره نوم يې رابرت آلن زيمرمن دی، امريکايي ليکوال، کمپوزر، شاعر، سندرغاړی او د نوبل جايزې ګټونکی دی. هغه د ۱۹۴۱ کال د مې په ۲۴مه د امريکا په مينه سوټا کې زېږېدلی دی. هغه په شاعرۍ او ليکوالۍ کې د ځانګړې سبک لرلو له امله پر دې بريالی شو چې په ۲۰۱٦ کال کې د نوبل د ادبياتو جايزه وګټي. هغه يو وخت د امريکا کليوالي يا بومي موسيقي غږوله، خو په ۱۹٦۰مه ليسزه کې يې کليوالي موسيقي له راګ سبک سره ګډه کړه. ځينې بيا وايي چې بيخي له کليوالي موسيقي په شا شو او راګ ته يې مخه کړه چې راګ اند شعرونه يې د هغه وخت د روشنفکرۍ د بهيرونو له کلاسيکو شعرونو سره يو ځای کړل. ډيلن له همدې وروسته د راک فولک يا کليوالي او راګ ګډې موسيقۍ په رامنځ ته کولو کې د پام وړ کارونه کړي دي. دی د خپلو هم نسله خلکو تر منځ په شکسپير مشهور و. د ده ځينې شعرونه او ترانې دومره مشهورې شوې چې هغه مهال ډېری ټولنيزو جريانونو او سياسي بنسټونو د شعارونو په توګه په خپلو غونډو کې کارولې. هغه له لسيزو راهيسې د امريکا د ادبياتو او موسيقۍ په برخه کې يو وتلی نوم دی چې په نړيواله کچه شهرت لري او امريکايي وګړي يې له هنري پنځونو خوند اخلي. باب ډيلن په ۲۰۱٦ کال کې د ادبياتو د نوبل جايزه وګټله او د نوبل بنسټ وويل چې د ده کارونه خورا پياوړي او له نوښتونو ډک دي.

رابرت آلن زيمرمن د ټولنې د يوې متوسطې يهودي کورنۍ غړی و. په ۱۹۴۷ کال کې يې د پلار د بېکارۍ له امله په مينه سوټا کې هيبينګ ښار ته کډه وکړه. په ۱۹۵۰ کال کې چې هغه مهال راډيو په ټوله امريکا کې خورا مشهوره وه، ډيلن هم له دې وسيلې سره سخته مينه لرله. هغه د راډيو له لارې له موسيقۍ سره هم مينه پيدا کړه. د نورو امريکايي ماشومانو او تنکيو زلمکيو په څېر يې د موسيقي اورېدلو ته مخه کړه او زړه يې غوښتل چې يوه ورځ وکړی شي تکړه سندرغاړی وي. د ده په اړه ويل کېږي چې له خپل اصلي ټاټوبي لاړ او له ځان سره يې پرېکړه وکړه چې له خپل تېر ژوند سره به ټولې اړيکې پرې کوي. ده غوښتل ځان ته يو نوی هويت او ځانګړی هنري شخصيت ولري. ويل کېږي چې خپل نوم يې بدل کړ او نوی نوم يې د ډيلن تامس له نامه اخيستی دی. ډيلن ټامس مشهور برېټانوي شاعر و چې په ويلز کې رالوی شوی و او د امريکايي فرهنګيانو تر منځ يې هم اثار لوستل کېدل.

باب ډيلن د امريکا په ادبياتو او موسيقۍ کې له مشهورو او اغېزناکو څېرو ګڼل کېږي. د هغه مشهوره سندره (لکه يو بې کوره سړی) د روليګ سټون مجلې له لوري د وخت تر ټولو غوره ترانه بلل شوې ده. د هغه ډېری سندرې بيا نورو سندرغاړو او هنرمندانو په بېلو سبکونو ويلې دي، خو لومړنی ويونکی يې دی دی. مارټين سکورسيزي د باب ډيلن د ژوند په اړه يو فلم جوړ کړی دی. دا فلم (کور ته د بېرته ګرځېدو لار نشته) په نامه دی. همدا راز (زه هلته نشته يم) بل هغه فلم دی چې د باب ډيلن له ستونزو او کړاوونو ډک ژوند يې انځور کړی دی. باب ډيلن په شعر او ترانو کې ځانګړی سبک لري. د همدې ځانګړي سبک د لرلو له امله په ځلونو د نوبل جايزې ته نوماند شوی دی، تر دې چې په ۲۰۱٦ کال کې بريالی شو چې دا جايزه وګټي.

د موسيقۍ او ليکوالۍ په برخه کې د باب ډيلن له فعاليتونو شاوخوا پنځوس کلونه اوړي. هغه جذابې ترانې ليکي او په زړه پورې شاعري کوي. دی په همدې نوښتونو او فعاليتونو توانېدلی چې د موسيقۍ په نړۍ کې په يوه بُت بدل شي او د موسيقۍ د برخې پوهان يې په کارونو کې له لاسوهنې ډډه وکړي. رابرټ زيمرمن د موسيقۍ په دنيا کې پر باب ډيلن مشهور دی. هغه د خپل هنري ژوند په اوږدو کې د ځان لپاره نږدې لس نومونه انتخاب کړي دي او په هر نامه يې يوه موده فعاليت کړی دی.

باب ډيلن په خپل هنري فعاليت کې تر ډېره ورځنيو حادثو ته پاملرنه کوي. هغه ورځنۍ پېښې او د انساني ژوند ورځني مسايل د هنر په ژبه وړاندې کوي. دی تر ډېره پخپله هم له دې پېښو سره لاس او ګريوان و، نو ځکه يې هڅه کړې چې په صادقانه توګه يې په خپل هنر کې هم وړاندې کړي. خلکو هم ځکه مينه ورسره لرله چې تل فعال و، نوې پېښې يې وړاندې کړې دي، اثار يې له نوښتونو ډک دي او خلک يې د ورځنيو پېښو له انځورونې سره مينه لري.

باب ډيلن پر دې باور دی چې هنر هم د نورو مسلکونو او تخصصونو په څېر د ژوند تېرولو يوه وسيله ده. دی د هغو هنرمندانو له ډلې دی چې په همدې مفکوره د خپل هنر د پلورلو لپاره هم تيار دی. دی وايي، په هره بيه چې وي بايد خپلې هنري پنځونې وپلوري، خو په سندرو، ترانو او اثارو کې يې سانسور ورته د منلو نه دی. دی له همدې امله خپلواک هنرمند بلل کېږي، ځکه خپلې سندرې نه سانسوروي، د چا تر تاثر لاندې نه وي او نه غواړي چې د چا شخصي غوښتنه او اغېز يې په هنر کې راڅرګند شي. دی د همدې خپلواکۍ له امله په هنر او ادب کې د امريکايانو له تاوده هرکلي سره مخ دی.

د باب ډيلن په اړه ښايي ډېرې خبرې واورۍ. ډېرې به يې درته عجيبه وي، خو ښايي درته جالبه هم وي چې هغه د هنر په برخه کې په ډېرو څانګو کې لاس وهي. هغه يو سندرغاړی، ليکوال او تکړه نقاش هم دی. نوموړي خپلې تابلوګانې او نقاشۍ د نړۍ په معتبرو نندارتونونو کې ننداري ته وړاندې کړې دي او د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شوې دي. مخکې مو هم وويل چې د ماشوم ډيلن مينه له موسيقي سره د راډيو له لارې پيدا شوه. بيا چې کله په ښوونځي کې شامل شو، نو دا مينه يې ډېره شوه او هڅه يې دا وه چې د موسيقي له ډلو او ګروپونو سره يو ځای شي. د ښوونځي پر مهال يې د موسيقۍ زده کول پيل کړل او لا يې ښوونځی نه و خلاص کړی چې په کنسرتونو کې يې برخه اخيسته. ده به خپلو سندرو ته شعرونه هم ليکل او هڅه يې دا وه چې د وخت نوې ترانې جوړې کړي. له ښوونځي تر فراغت وروسته پوهنتون ته بريالی کېږي. دی په مينه سوټا پوهنتون کې د موسيقي په برخه کې خپلې زده کړې پيلوي. هلته د زده کړو پر مهال له مهمو مسايلو سره مخ کېږي. دی وايي، په پوهنتون کې له کليوالي يا فولکلوريکې موسيقۍ سره نور هم بلد شو.

ډيلن په دې باور دی چې تر خيالي موارډو رښتيني يا رياليستيک موارد په هنر او ادبياتو کې د ځانګړي اهميت خاوند دي. دی وايي، په پوهنتون کې د زده کړو پر مهال متوجه شو، چې خلک په ډېر لوړ کيفيت هنري پنځونې کوي، لګښتونه لري، خو د خلکو له هومره هرکلي سره نه مخ کېږي، ځکه د دوی هنري پنځونې رښتيني ژوند ته دومره نږدې نه دي. ډيلن په دې باور دی، څومره چې هنر رښتيني ژوند ته نږدې وي، دومره يې اغېز او مينه وال ډېر وي. له همدې امله دی وايي چې فولکلوريک هنر تر اوسني هنر ډېر اصيل او خوندور دی. دی وايي، هغه رښتينولي چې په فولکلوريک هنر کې ده، په هغه هنر کې نه ده چې ډېره لاسوهنه پکې شوې وي. دی د همدې مفکورې پر بنسټ د راګ او فولکلوريکې موسيقۍ يوه ګډه نوې موسيقي جوړوي چې فولک راک نومېږي.

د امريکا سياسي وضعيت هم د ډيلن پر هنري اثارو خپل اغېز درلود. په ۱۹٦۳ کال کې ډيلن احساس کړه چې د ملي فرهنګي او اعتراضي جريانونو له لوري محاصره شوی دی او دا کار يې د ځان په زيان وباله. دی دې پايلې ته ورسېد چې د هنر محاصره کېدل د هنر غرقېدل دي. ده هغه مهال دا احساس له ځانه وښود چې د جان او کينډي تر مرګ وروسته د تام پين جايزه ده ته ورکول کېده. دا جايزه د مدني او ضروري ازاديو کمېټې ورکوله. دی د دې خبرې په اورېدو بې خوده شو او ژر يې غبرګون وښود، نه يې غوښتل چې د يوه ځانګړي جريان جايزه ورکړل شي. ده وويل چې د دې کمېټې د غړو پرېکړه ورته ارزښت نه لري. ده دا ټينګار هم وکړ چې دا خلک ټول د جان اف کينډي په قتل کې لاس لري. کله کله د ډيلن د موسيقۍ او شخصي ژوند سبک بدل شوی هم دی. له ۱۹٦۴ تر ۱۹٦۵ کاله هم د ډيلن په سبک کې بدلون راغی. له فولکلوريکې موسيقۍ راګ ته لاړ، ټوټې جامې به يې اغوستې، تورې عينکې به يې په سترګو وې او د سرک غاړې ته د ګرځېدونکو بېوزله خلکو په څېر به يې ظاهري څېره ښکارېده. د ډيلن په اړه ويل کېږي چې هغه په خپلو مرکو کې تل او ډېر وخت نانديرۍ وهي.

مخکې مو هم د باب ډيلن اثارو او د ده سبک ته اشاره وکړه، ډيلن يې د ځانګړي سبک له امله د نړۍ په کچه مشهور شوی دی. د ډيلن د سبک ځانګړنه او تر ټولو غوره ځانګړنه نوښت دی. دی د خلکو ژوند ته نږدې مسايل را اخلي، خو دا مسايل وچ په وچه د خبر په څېر بېرته ټولنې ته نه وړاندې کوي، بلکې د هنر په ګاڼه يې سمبالوي. دی په همدې شته مسايلو کې نوښت کوي. بله ځانګړنه يې دا ده چې رياليست دی. دی په دې باور دی چې تر خيالي موارډو اصلي او رښتيني موارد ډېره مينه وال لري. هغه وايي، ولې بايد هنرمن اصيلو توکو ته متوجه نه وي چې په مصنوعي بازار کې په هسې نمايشي مسايلو پسې ګرځي. دی په اصيل هنر او اصيله موسيقۍ چې فولکلوريکه يا د خلکو موسيقي او هنر يې بولو، باوري دی. نوبل يوازينۍ جايزه نه وه چې ډيلن يې مشهور کړ، بلکې هغه تر دې وړاندې نورې جايزې هم ګټلې دي. باب ډيلن په ۲۰۰۸ کال کې پوليټزر جايزه هم ګټلې ده. د پوليټزر جايزې بنسټ وايي، د هغه کلام فوق العاده شاعرانه قوت لري. عام خلک يې خوښوي او د امريکايي فرهنګ په پراختيا کې يې اغېز د پام وړ دی. باب په شخصي ژوند کې هم ځينې ځانګړنې لري: شوخ طبعه دی، په خبرو کې ډېر ماهر دی، ټولنيز شرايط پر وخت او سم تفسير وړاندې کولی شي، په کلام او همداسې عادي خبرو کې د قافيې په کارولو کې ماهر دی، ښه ليکل کوي، ښه شعر پنځوي او غوره د موسيقۍ پارچې جوړوي. هغه ښه نقاش هم دی چې له اثارو يې په امريکا او اروپا کې ډېر ننداړتونونه جوړ شوي دي.

د باب ډيلن له لوري د نوبل جايزې ګټل ډېر عجيبه وو. د نوبل بنسټ په پرله پسې توګه له باب ډيلن سره د اړيکې هڅه وکړه، خو هغه يې هېڅ پيغام او ايميل ته ځواب نه ورکاوه. دی د نوبل د اعلان پر مهال په لاس ويګاس کې و او کانسرت يې درلود. د جايزې له اعلان پوره اووه ورځې وروسته ده د نوبل بنسټ اړيکو ته ځواب ورکړ او له دې بنسټ يې مننه وکړه. څو ورځې وروسته د نوبل بنسټ وويل چې باب ډيلن د جايزې اخيستلو لپاره پخپله نه شي ورتللی. نو جايزه په سويډن کې د امريکا سفيرې واخيسته او په دې مجلس کې يې د باب ډيلن پيغام هم ولوست.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶.۹۰ |
| € | ۹۰ |
| Rp. | ۴۸۹ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰،۶۰ |
| £ | ۹۹،۲۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# سهار د وختي پاڅېدو پنځه مرحلې لرونکې تګلاره

ژباړه: امان الله «حنیفي»

که ربښتیا هم د برابر شوي ساعت د زنګ خاموش بټنه وهی او سهار د بیا ویده کېدلو په اړه فکر کوی، پوه شی چې دا کار بې مانا دی. دا داسې مانا لري لکه تاسې چې وایئ، سهار له وختي پاڅېدلو نفرت لرم.
لومړی ښه ده چې ووایم، که تاسې اوس هم پر دې پالیسۍ چې زه یې اوس تاسې ته وایم، جوړ نه یاستی: زه اوس هم سهار د ساعت د زنګ د خاموش بټنه وهم او بیا ویده کېږم او له دې بده دا چې ممکن اوس هم پر هغه محدودوونکي باور، ښه کلکه عقیده ولرم او ځان ته ووایم: «زه سهار پاڅېدونکی کس نه یم.»
وایي، هرڅوک نه غواړي چې سهار وختي له خوبه راپاڅېږي، خو ټول خلک له سهار وختي پاڅېدلو سره مینه لري. دا موضوع کټ مټ لکه ورزش کول داسې ده. موږ ډېری په ډېر زحمت سره ورزش کوو، خو موږ ټول بیا له ورزش سره مینه لرو. سهار وختي پاڅېدل که هدفمند وي، دا د دې باعث کېږي چې تاسې ټوله ورځ په ښه انرژۍ سره پیل کړی.
زموږ ډېریو لپاره، کله مو چې سهار وختي ساعت زنګ ووهي، له یو درونډ خوبه پرې راویښېږو او دا چې د خوب له کټه راپاڅېږو، دا بیا راته چنداني په زړه پورې نه ده. که ممکنه وي له خوبه د را ویښېدو د انګېزې د پیاوړي کولو لپاره مو هغه وخت چې ساعت زنګ وهي، په یو پرتله ییز چوکاټ کې مو ځان ته له ۱-۱۰ نومرې ورکړئ. ۱۰ امتیازونه په دې مانا چې تاسې سهار وختي پاڅېدو ته کاملاً اماده یاستی او خپله ورځ مو په ښه انرژۍ سره پیلوی او یو امتیاز بیا په دې مانا چې تاسې له خوب کولو پرته بل هېڅ شي ته هم اهمیت نه ورکوی. داسې مهال کېدای شي زموږ ډېریو امتیاز یو یا دوه وي. دا بیخي طبیعي ده، دا چې تاسې نیمه ویښ یاستی او ساعت مو زنګ وهي، د هغه اواز خاموش کوی او تاسې بیا ویده کېږی.
اوس اصلي ننګونه دلته ده چې څنګه کولای شی له خوبه د وختي پاڅېدو لپاره ځان ته انګېزه ورکړی، څو فوق العاده ښه ورځ ولری، په داسې حال کې چې له خوبه د پاڅېدو انګېزه مو د یوه او دوو تر منځ ده؟
ځواب ډېر ساده دی، مرحله په مرحله مخکې لاړ شئ، موږ همدلته له خوبه د پاڅېدو پنځې مرحلې تاسې ته وایو:

**لومړۍ مرحله: له ویده کېدو مخکې مو خپلې غوښتنې مشخصې کړئ**

د سهار وختي پاڅېدو لپاره لومړی مهم ټکی دا دی چې په یاد ولری: سهار ستاسې لومړی فکر، له ویده کېدو مخکې ستاسې اخري فکر دی.
د بېلګې په ډول، ما ټولې هغه شپې تجربه کړې چې د سهار وختي پاڅېدو له امله نه یم توانېدلی چې ویده شم. پرته د نوي کال د جشن له ورځې، یا په رخصتیو تلل او د نوې دندې پیلول، هماغسې څنګه مو چې ساعت زنګ ووهي، تاسې به په پوره مینه له خوبه راپاڅېږی.
له بلې خوا، که مو له ویده کېدو مخکې اخري فکر دا و چې ووایئ: «زه نن شپه یوازې شپږ ساعته خوب کولای شم، پوهېږم چې سبا به ښه خوبه وړی او خسته وم.» په داسې حال کې، سبا سهار د ساعت په زنګ وهلو او له خوبه د راویښېدو پر مهال لومړی څه چې وایئ یې دا دي: اه زما خدایه! دا څومره ژر شپږ ساعته پوره شول، نه، غواړم چې یوڅه وخت نور هم ویده شم.
نو پر دې اساس، ښه ده چې هره شپه له ویده کېدو مخکې د سبا ورځې لپاره ښه تصمیم ونیسئ، څو بیا په هماغه احساس سره له خوبه راویښ شی.

**دویمه مرحله: زنګ وهونکی ساعت له ځانه لرې کېږدئ**

که مو تر اوسه دا کار نه وي کړی، زنګ وهونکی ساعت مو له ځانه لرې کېږدئ. دا د دې باعث کېږي چې تاسې د هغه په زنګ وهلو سره له خپل ځایه پاڅېږی، یوڅو قدمه حرکت وکړئ او بیا وروسته هغه خاموش کړئ. همدا حرکت تاسې ته د انرژۍ باعث کېږي، نو پر همدې اساس کله چې تاسې د خوب له کټه بیرون راوځی، دا کار په طبیعي ډول له خوبه په راویښېدو کې له تاسې سره مرسته کوي.
که مو زنګ وهونکی ساعت ځان ته نږدې ایښی وي او تاسې د هغه زنګ خاموش کړی، تاسې په ډېر احتمال سره چې د خوب له کټه نه راولاړېږی او بیرته ویده کېږی. باوري یم چې دا وخت به ډېر ژر بیرته ویده شی او کله چې راپاڅېږی، د ساعت زنګ وهل به مو هم په یاد نه وي. پوهېږم چې زما په ګډون به د ډېریو لپاره د ساعت زنګ وهل د هغوی د خوب یوه برخه وي.
ډېره اسانه ده. دا چې تاسې ځان دې ته مجبوروی چې د خوب له کټه راپاڅېږی او د ساعت زنګ خاموش کړی، هغه ده چې له خوبه ستاسې د پاڅېدو کچه له یو، دوه او حتی درې درجې ته لوړېږي. له دې سره سره کېدای شي بیا هم د بې خوبۍ احساس وکړی، خو هېڅ باک پرې مه راوړئ، دا احساس د لنډ وخت لپاره دی.

**درېیمه مرحله: غاښونه مو بورس کړئ**

څنګه چې د خوب له کټه راپاڅېدی او د ساعت زنګ مو خاموش کړ، داسې مستقیماً حمام ته لاړ شئ او خپل غاښونه مو بورس کړئ او مخ ته مو یوه لپه اوبه واچوئ. دا ساده او اسانه کړنه د دې باعث کېږي چې له خوبه ستاسې د بیدارېدو کچه له دوه، درې او یا هم له درې، څلور ته لوړه شي.

**څلورمه مرحله: یو ګیلاس اوبه وڅښئ**

دا په هر لحاظ ډېره مهمه ده چې سهار وختي تر هرڅه مخکې یو ګیلاس اوبه وڅښئ. دا طبیعي ده چې له شپږ، اووه او یا هم اته ساعته خوب وروسته ستاسې د بدن اوبه کمېږي او همدا بې اوبو والی ستاسې د خستهګۍ باعث کېږي. ډېری وخت کله چې یو څوک د خستهګۍ احساس کوي، هغه څه چې دوی هره ورځ ورته ضرورت لري، هغه ډېر خوب نه؛ بلکې اوبه دي. نو ښه ده چې هر سهار مو پو یو ګیلاس اوبو څښلو سره پیل کړئ. دا د دې باعث کېږي چې د شپې پر مهال مو د بدن د مصرف شوو اوبو ځای ونیسي او بدن مو بېرته په ښه ډول پر فعالیت پیل وکړي.
دا چې تاسې هر سهار له هرڅه مخکې یو ګیلاس اوبه وڅښی، هماغه دې چې له خوبه ستاسې د راویښېدو انګېزه له درې، څلور او یا هم له څلور، پنځه ته لوړه شي.

**پنځمه مرحله: د خوب جامې مو بدلې کړئ او یا دا چې منډه ووهئ**

پنځمه مرحله دوه انتخابونه لري، لومړی دا چې د ورزش جامې مو واغوندئ او دې ته متوجې اوسئ چې د خوب له خونې مو راووځئ او د سهار وختي پاڅېدلو په معجزه کې برخه واخلئ. دویمه مرحله دا ده چې بیرون ته ووځئ او منډه ووهئ. خپله مې دا ډېره خوښېږي چې سهار وختي د ورزش جامې واغوندم او یوڅه منډه وکړم، ځکه ډېری خلک منډې وهلو ته ترجیح ورکوي او دا د دې باعث کېږي چې سهار له خوبه د پاڅېدو پر مهال ښه احساس وکړو او پر کار پیل وکړو. اوس انتخاب له تاسې سره دی، کوم یو کوی، ویده پاتې کېږی او که راپاڅېږی د ورزش جامې مو اغوندی او منډه وهی.
له دې پرته چې تاسې کوم انتخاب وکړی، تر هغه چې مو دا پنځه اسانه مرحلې سرته رسولې نه دي، له خوبه ستاسې د بیدارېدو انګېزې کچه پنځه او یا هم شپږ ده او وروسته بیا د سهار وختي پاڅېدو د معجزې د رامنځ ته کولو لپاره ډېر کم نور کار ته اړتیا ده.
که د ساعت زنګ وهلو پر مهال له خوبه د راویښېدو د انګېزې کچه مو یو وي، دا وخت تصمیم نیول درته ډېر سخت نه دي؛ یوازې یوڅو ورځې خوارۍ ته اړتیا لري.



# پکتیکاوال: ناپېژانده کسان د سرحدي مسایلو غږ پورته کوونکي وژني

د پکتیکا یو شمېر اوسېدونکي وایي، که څوک له امنیتي ځواکونو سره ناسته ولاړه ولري او یا هم له پاکستان سره په سرحدي موضوعاتو غږ پورته کړي، نو د نامعلومو کړیو له لوري وژل کېږي.
د اړوندې موضوع په اړه د برمل ولسوالۍ یو شمېر اوسېدونکو تېره ورځ غونډه جوړه کړې وه. په دې غونډه کې د دې ولسوالۍ یوه اوسېدونکي ولي وزیر وویل چې برمل سرحدي ولسوالۍ ده او اوسېدونکي یې له ګڼو ستونزو سره مخ دي.
هغه وایي: «په دې اواخرو کې اوس یو بل مشکل پیدا شوی دی، څوک چې د سرحدي موضوعاتو په اړه خبرې وکړي او یا هم له حکومتي ځواکونو سره ناسته پاسته ولري، د نا معلومو کسانو له لوري وژل کېږي.»
خو د دې ولسوالۍ یوې قومي سرچینې پژواک ته ویلي چې څه موده وړاندې د همدې ولسوالۍ اوسېدونکو د پاکستان له لوري د اغزن تار د غځولو مخنیوي هڅه کړې وه. دی وایي چې څه موده وروسته بیا د همدې ځوانانو له ډلې څخه دوه تنه یې د ناپېژاندو کسانو له لوري ووژل شول.
د همدې ولسوالۍ یو تن قومي مشر قدرت الله وایي چې په دې ولسوالۍ کې د پاکستان له لوري جوړه شوې دروازه یې ویجاړه کړې ده. هغه وایي: «کله مې چې دروازه ړنګه کړه، له هغه وروسته دوه ځلې راباندې بریدونه شوي دي، اوس درې زامن ځان سره د ساتونکو په توګه ګرځوم.»
همدارنګه د پکتیکا ولایتي شورا غړي افسر خان هم وایي چې حکومت باید د سرحدونو موضوع له ګاونډیو سره پاکه کړي. هغه زیاتوي چې د همدې سرحدي ستونزو له امله هره ورځ په بېلابېلو نومونو ګڼ شمېر خلک وژل کیږي.
په ورته وخت مې د پکتیکا د امنیې قوماندانۍ مرستیال ویاند لعل امیري د اړوندې موضوع په اړه ته وایي چې د برمل ولسوالۍ د اوسېدونکو یاده ستونزه به دوی وڅېړي.
هغه زیاته کړې چې حکومتي ځواکونه تل کوښښ کوي ،ترڅو په ټولو سیمو کې د خلکو لپاره امنیت تامین کړي.
د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم د برمل ولسوالۍ اوسېدونکو له ورته ستونزو شکایتونه کړي وو.



مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۷مه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۱۷مه | ۶۳۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | ١٥ | ١٦ | ١٥ | ١٧ | ١٤ |
| -٤ | ٤ | ٥ | ٧ | ٦ | ٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۲ | لمر ختل ۰۶:۲۸ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:۲۸ | ماښام ۰۴:۴۹ | ماخوستن ۰۶:۱۶

## عبدالله: توافقنامۀ امریکا و طالبان نمی‌تواند اساس همه بحث‌های مذاکرات باشد



عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحۀ ملی در یک گفت‌وگو با یک تلویزیون خصوصی گفته است که نمی‌شود در مذاکرات صلح با طالبان موافقت‌نامۀ صلح امریکا و طالبان، اساس تمام بحث‌ها باشد.

آقای عبدالله تأکید می‌کند که افغانستان باید به صلحی برسد که دیدگاه‌های مردم را در خود، داشته باشد. در همین حال او هشدار می‌دهد که اگر پس از بیرون شدن نیروهای خارجی از افغانستان هم، طالبان به جنگ ادامه بدهند، کشور برای سال‌ها درگیر جنگ خواهد ماند. این در حالیست که مذاکرات رسمی میان نماینده‌گان حکومت و طالبان در دوحه، پایتخت قطر همچنان آغازنشده و برجا مانده‌است و تأکید طالبان بر اساس قرارگرفتن موافقنامۀ صلح‌شان با امریکا در نشست‌های‌شان با نماینده‌گان حکومت، از علت‌های تأخیر در آغاز این مذاکرات دانسته می‌شود. عبدالله در این باره می‌گوید: «موافقت‌نامه را طرف افغانستان، طرف جمهوری اسلامی افغانستان نادیده نگرفته؛ اما اساس تمام بحث‌های ما بوده نمی‌تواند. جامعه افغانستان (به) صلحی که باید برسد، نظریات اکثریت مردم افغانستان باید در آن تمثیل شود.» بحث خروج نیروهای خارجی از افغانستان، از موضوعات دیگری‌ست که در این گفت‌وگو مطرح می‌شود. آقای عبدالله نیز در این باره می گوید: «این که این تصمیم آیا امروز تا به ماه جنوری گرفته می‌شود یا بعدتر، آن دیده شود؛ اما این تصمیمی‌ست که ایالات متحده امریکا می گیرد... اگر طالبان تصمیم بگیرند که جنگ را ادامه می‌دهند و هیچ نوع انعطافی در مذاکره از خود نشان ندهند، متاسفانه معنایش این می‌باشد: ادامه جنگ برای سال‌های سال!»

## نړۍ



د امریکا د ټاکنیز کړکېچ دوام؛

## ترمپ: د ټاکنې پایلې نه منم، لا هم اوږده لاره پاتې ده

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۵۵ میلیونو ته ورسېدې

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې کرونا مثبتې پېښې نږدې ۵۵ میلیونو ته رسېدلي دي او تر اوسه ترې یو میلیون او ۳۲٦ زره او ۷۷۰ کسان مړه شوي او له ۳۸ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا ویروس د ډېرو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۱۱ میلیونه او ۳۷۲ زره او ۹۰۴ ته رسېدلي او ۲۵۱ زره او ۹۳۴ نور امریکایان تر مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د اته میلیونه او ۸۵۵ زره او ۴۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۸٦۳ زره او ۹۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریېم، فرانسه د یو میلیون او ۹۸۱ زره او ۸۲۷ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او روسیه د یو میلیون او ۹۴۸ زره او ٦۰۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانیا، بریټانیا، ارجنټاین، کولمبیا او ایټالیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ارمانیا: سلګونه سرتېري مو لا هم په نګورنو قره باغ کې ترې تم دي



د ارمنستان لومړي وزیر ویلي چې د نګورنو قرہباغ تر جګړې وروسته یې سلګونه سرتېري ترې تم شوي دي او لا هم معلومه نه ده چې هغوی څه شوي دي.

د یاد هېواد لومړي وزیر نېکول پاشینیان یو انلاین خبري کنفرانس ته ویلي، هیله لري چې ورک شوي سرتېري ژوندي پیدا شي او که یې برخلیک نامعلوم پاتې شي، نو دوی به ارو مرو له اذربایجان څخه د خپلو ورکو سرتېرو پوښتنه وکړي.


دا په داسې حال کې ده چې په نګورنو قرہباغ کې تر څو اونیو سختو جګړو وروسته د روسیې او ترکیې په منځګړیتوب دواړو لوریو پر اوربند سلا کړې ده او ټاکل شوې چې ارمنستان لاندې کړې سیمې ببرته اذربایجان ته وسپاري. په دغو جګړو کې چې نږدې دوې میاشتې یې دوام وکړ، دواړو لورو ته پکې زرګونو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.

بلخوا له اذربایجان سره له هوکړې وروسته په ارمنستان کې د دولت ضد لاریونونه هم شوي او اعتراض کوونکي د هغه هېواد د لومړي وزیر نېکول پاشینیان د استعفا غوښتنه کوي.

اذربایجاني او ارمني پوځیان د پخواني شوروي اتحاد له نړېدو وروسته د ۱۹۹۰ لسیزې راهیسې د جګړو او دښمنۍ مخینه لري. ارمني جلاغوښتونکو په ۱۹۹۰ یمه لسیزه کې د قره باغ غرنۍ سیمه د خونړیو جګړو په ترڅ کې نیولې وه چې ۳۰ زره کسان په دغه جګړه کې وژل شوي وو.


## ژوند

## موټرولا نوی ځیرک موبایل معرفي کړ



موټرولا کمپنۍ خپل نوی ارزانه بیه ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ. دغه ځیرک موبایل له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوي او موټو جي ۵جي (5G Moto G) نومول شوی دی. دغه ځیرک موبایل اوسمهال اروپا کې خرڅلاو ته وړاندې شوی او بیه یې ۳۰۰ یورو ټاکل شوې ده. دغه ځیرک موبایل ٦٫۷ انچه فول ایچ ډي پلس ۱۰۸۰، ۲۴۰۰ پکسل ریزلوېشن لرونکې مخ‌پاڼه لري او په کې د کوالکوم کمپنۍ سنپ ډراګن ۷۵۰جي پروسېسر او اډرینو ٦۱۹ جي پي یو کارول شوی دی. موټو جي به ۴-٦ ګېګابایټ رم او ٦۴-۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې ورتیا ولري. کاروونکي د فایل ثبتونې ورتیا د میموري کارت له لارې یو ټېرابایټ ته لوړولی شي. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي، ۸ مېګاپکسله الټرا وایډ انګل او ۲ مېګاپکسله مکرو کامرې په کې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې یوه ١٦ مېګاپکسله سېلفي کامره هم لري. د ګوتې نښې سېنسر شاتنۍ برخه کې د کامرې لاندې ځای پر ځای شوی دی.

## په بدن کې د ویټامین ډي د کمښت نښې




په ځینو حالاتو کې د ویټامن ډي د کمښت هیڅ نښې نه څرګندېږي، خو په ځینو نورو کې له څو کالونو وروسته راڅرګندې شي، مګر د ویټامن ډي کمښت د ځینو روغتیایي ستونزو رامنځ ته کېدو له کبله کیږي، په ځانګړي ډول چې دغه ستونزه اوږدمهاله وي، نو له طبیعي کچې د ویټامن ډي کموالی ممکن له لاندې لاملونو څخه وي: د هډوکو فریکچر یا ناثابته کېدل؛ دا کولی شي پر کوچنیانو ژر اغیز وکړي چې هډوکي یې نرم وي، د هډوکي فریکچر، د قد ټیټوالی، د غاښونو ستونزې او په تګ کې د ستونزو لامل کیږي. د هډوکو زیات ماتېدل؛ هډوکي ماتېدل ممکن په ځینو حالاتو کې له یو کوچني لامل څخه وي او دغه حالت په لویانو کې ډېر څرګندېږي، په ځینو حالاتو کې دا د فریکچر یا (اوسټیوپورسس) ته اشاره کوي. په دې اړه لا هم څېړنې رواني دي، خو ویل کیږي چې خپګان، د هډوکو کمزوري او درد هم د ویټامن ډي د ټیټې کچې له کبله رامنځ ته کېدلی شي. دغه راز روغتیا پوهانو خبر ورکړی چې د ویټامن ډي بشپړتیا د دویم ډوله شکر په مخنیوي کې هم مرسته کوي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

